بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

چهارشنبه ۱۵ محرم، ۱۴۴۵هـ ۲۰۲۳/۰۸/۰۲م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/۰۲

مطبوعاتي اعلامیه

## له امریکا سره اعتماد جوړول؛ په امت کې خپل اعتماد ته زیان رسول دي!

د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړو استازو ټامس ویسټ، رینا امیري او په قطر کې د افغانستان ماموریت لپاره د امریکا د سفارت شارژدافیرې کرن ډیکر، د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي په مشرۍ د افغان چارواکو او مسلکي ټکنوکراټانو سره د دوو ورځو لپاره د قطر په پلازمېنه دوحه کې کتلي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د اعلامیې پر بنسټ په غونډه کې په "مهمو ګټو "خبرې شوې دي. یادې مهمې ګټې د دواړو لوریو تر منځ اعتماد جوړونه، په دغه لاره کې عملي ګامونه پورته کول، د امنیتي ژمنو ارزول، د حکومت ټولګډونوالی، د تورو لیستونو او بندیزونو لیرې کول، د افغانستان بانک د زیرمو ازادول، د افغانستان اقتصادي ثبات ساتل، مخدره موادو پر خلاف مبارزه، بشري حقونه او بشري اړتیاوې بلل شوې دي. همداراز ټامس ویسټ یادې دوه اړخیزې خبرې په جزئیاتو او صادقانه بللې او د افغانستان او امریکا دواړو د ګټو خوندي کولو لپاره یې د هغو دوام هم اړین بللی.

د حزب التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د یادو خبرو اترو په اړه لاندې ټکو ته اشاره کوي:
۱. د دوحې وروستۍ خبرې اترې له اسلامي امارت سره د تېر دوه کلن امریکایي سیاست؛ تعامل (تطمیع او تنبیه) د پالیسۍ نوی فصل دی. څومره چې له دښمن سره په دغو خبرو اترو کې پرمختګ رامنځ ته کیږي، هومره اسلامي امارت د نړیوال امریکایي نظم سره نږدې کیږي، چې دا د اسلام او اسلامي امت په ګټه نه، بلکې پر اسلامي خاوره د نورو واکمنو جبریه نظامونو پر پلونو پل ایښودل دي او بس.

۲. امریکا، ملګري ملتونه، غربي هېوادونه او نړیوال بنسټونه له یوې خوا په متواتر ډول له افغانستان څخه د خپلو راپورونو په ترځ کې د اسلامي امارت پر تګلارو او چلند سختې نیوکې کوي، خو له بلې خوا څومره چې اسلامي امارت په خپلو تګلارو کې د دوی په اند سمون راولي، هومره ملګري ملتونه او نړیوالې موسسې په افغانستان کې د ښکېلتیا ستراتیژۍ او پروګرامونه جوړوي، چې وروستۍ بېلګه یې د افغانستان لپاره د ۲۰۲۳ څخه تر ۲۰۲۵ پورې د یوناما ستراتیژیک چارچوکاټ او د نړیوال بانک وروستی راپور دی، چې دا د افغانستان استقلالیت تر پوښتنې لاندې راولي او له اشغال څخه له آزادۍ وروسته د ښکېلاکګرو هېوادونو استعمار ته لاره هواروي.

۳. د اسلامي امارت په هیئت کې، د امریکایي پلاوي له خوا د ټکنوکرات او طالب چارواکو بېلتون بل د خطر زنګ دی، چې اسلامي امارت باید ورته جدي پاملرنه وکړي. ځکه امریکا غواړي د اسلامي امارت په اساسي دولتي بنسټونو کې پر مجاهدینو نه، بلکې پر ټکنوکراټانو اعتماد وکړي، د هغوی پر غوښتنو، راپورونو او ضمانتونو ورسره لازم چلند وکړي. امریکا، ملګري ملتونه او نړیوال اقتصادي بنسټونه دغه چاره تر هرڅه د مخه د مرکزي بانک په مشرتابه کې د استقلالیت تر نوم لاندې پر مخ وړي او غواړي د مرکزي بانک چارې د داسې کسانو لاس ته ولوېږي، چې د اسلامي امارت پر ځای امریکا، ملګرو ملتونو، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک او نورو نړیوالو موسسو ته ژمنتیا ولري او تر دې وروسته په افغانستان کې خپل اقتصادي استعمار ته دوام ورکړي.

په اسلامي امت کې د جهادي ډلو د واکمنۍ تاریخ ته په کتو؛ موږ یو ځل بیا اسلامي امارت ته خبرداری ورکوو؛ هغه تګلاره چې تاسو له نړیوالو سره د اړیکو لپاره ټاکلې، په اسلامي امت کې څو ځله تجربه شوې ده، چې مسلمانان او مجاهدین یې د اسلام له تطبیق څخه منحرف او په پای کې یې له سقوط سره مخ کړي دي. نو مخکې له دې چې له دغې سوړې څخه بیا وچیچل شئ، له هغوی سره پر اړیکو له سره غور وکړئ او خپل کورنی سیاست یوازې د بشپړ اسلام په تطبیق او بهرنی سیاست پر دعوت او جهاد باندې بنا کړئ. د امریکا، ملګرو ملتونو، نورو کفري قدرتونو او نړیوالو سازمانونو پر ځای پر الله سبحانه وتعالی او د اسلامي امت پر ظرفیتونو اعتماد وکړئ، ترڅو د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس او اسلامي خاورو ته یو پر بل پسې یووالی ورکړو. «**لا يُلْدَغُ المُؤْمِنُ مِن جُحْرٍ واحِدٍ مَرَّتَيْنِ**» متفق علیه. ژباړه: مؤمن له یوې سوړې څخه دوه ځله نه چیچل کیږي.

### د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر